# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



دوکتور م ، عثمان تره کی


۲۳ نومبر ۲۰۱۲

## د جنگی اسیرانو اعدام :

## د سولی په وړاندی د دشمنی دریز

د کابل د اداری جګړه ماران ، د وسله وال مخالفینو سره د خبرو اترو په درشل کی د دی په بدل چه د حسن نیت په توګه د طالبانو یو شمیر زندانیان خوشی کړی ، برخلاف د دوی د اعدام پریکړه وکړه.

غټ سوال دا دی چه د کابل اداره ولی په دغسی حال او احوال کی چه د سولی پروسه له سره پیل شوی ، د اعدامونو لړی تر لاس لاندی نیولی ؟

دلته د جنگی اسیرانو نه د سیاسی لاسوند ( افزار ) په دول کار اخیستل موضوع مطرح ده . پدی معنی چه :

ـ مقاومت دیته حاضر نشو چه د کابل د اداری سره په نیغه خبری وکړی. شمالی تلوالی د حکومت د سروال په حیث د مقاومت نه د غچ اخیستنی په یوه نا ځوانمردانه دریز  په بنست باندی د مخالفینو په اعدام لاس پوری کړ.

د ژنو دریم کانوانسیون  د جنگی اسیر اعدامول او د هغی نه غچ اخیستنه ( ۱۰۰ ماده ) جنگی جنایت شمیری.

ـ  په هغه مذاکراتو باندی چه د سولی په اړه په قطر کی  جریان لری ، سیاسی فشار راوستل د مخالفینو د اعدام بل لامل ګڼلی شو . بهرنیان غواړی د دی لاری مخالفینو ته پیغام ورولیږی چه  که په خبرو کی  انعطاف نښودل شی ، بهرنی ستراتژیستان د جګړی د دوام په مقصد مذاکراتو  ته د پای ټکی کیږدی . د کابل د اداری جګړه ماران هم په ناقراری ، دغی شیبی ته انتظار باسی.

مهمه خبره دا ده چه د جنگی اسیر نه د سیاسی موخو د پاره ګټه پورته کول د جګړی د قوانینو نه سرغړونه ده .

په هر حال ! د وسله والو مخالفینو د اعدام په اړه  نړیوال نظامی ائتلاف ( ن، ن، ا ) او د کابل اداره ګډ دریز لری :

( ن، ن، ا ) اوسنی  سیاسی اعدامونه  د یوه  اعلامیی د لاری، ندی غندلی .

موږ د کابل حکومت د جګړه مارانو نه د عدالت او حقونو د موازینو د درناوی تمه نلرو . دوی د مخالفینو د اعدام د لاری بلی لوری ته د انتحاری برید او جګړی انګیزه ورپه برخه کوی تر څو چه د جګړی اور وساتل شی .  خو د ( ن، ن، ا ) نه دا غوښتنه لرو چه په عمل کی افغانانو ته وښئی  چه دوی واقعآ  سولی او عدالت اصولو  ته باور لری او دیموکراسی او قانون واکمنی ته ژمن  دی . که نه د مقاومت دجګړی حقانیت  پخپله ثابتیږی .

دلته د دی د پاره چه ( ن، ن، ا ) د دغه اند نه وباسو چه په افغانستان کی په ځنګله د ننه د ښکار په مقصد ندی راغلی ، نړیوال قوانینو ته پناه وړو . هغه نړیوال قوانین چه یی (ن، ن، ا ) یو اړخ جوړوی :
د ژنو کانوانسیون ( ۱۹۴۹ کال ، د اګست ۱۲ ) لمړی پروتوکول (۱۹۷۷ ) جنګی اسیران د بشری حقونو Droit humanitaire په درلودلو مستحق ګڼی.
د ژنو کانوانسیون (۱۹۴۹) دوهم پروتوکول غیر نړیوال هغی جګړی ته ځانګړی شوی چه یو اړخ یی ملیشیا جوړوی . پروتوکول هڅه کوی چه د جګړی په وخت کی ( سره له دی چه د جګړی د قوانینو نه سرغړونه شوی وی ) غیر دولتی جنګیالی د حقونو تر پوشش لاندی راوړی.
اوسمهال ګن شمیر دیپلوماتان او سیاستپوهان اعتراف کوی چه افغانستان د اشغال په حالت کی قرار لری . فرانسویان د « ریال پولتیک » په بنیاد باندی خپل لار د موتلفینو نه جلاّ کړل . د نړیوال قوانینو له مخی د اشغال په حالت کی د اشغال شوی هیواد دولتی اتوریته بهرنی ځواک ته انتقالیږی . ( ن، ن، ا ) ( موضوع سره په تړاو د کانوانسیونونو د یو اړخ په توګه ) مسئولیت لری چه جنګی اسیران د حقونو تر پوشش او د قوانینو تر اجرایی ضمانتونه لاندی راوړی . باید پدی برخه کی نړیوال سره صلیب ته زیاتره ونده ورپه برخه شی .
په افغانستان کی دری لسیزه کیږی چه د جګړی اور او ورسره جنګی جنایت د ورځنی عادی پیښی په توګه مطرح ده . د دغه جنایتونو پړه یوازی د افغانانو په غاړه نده . د جګړی د قوانینو په تیروتنه کی ، بهرنیان پخپل وار ( اَن د افغانانو په پرتله زیاتره ) مسئولیت لری.
د جګړی په پای کی ، جنګی جنایاتو ته پام د افغانستان د زرګونو پروبلمونو نه یو پروبلم دی . د دغه پروبلم د حل په اړه باید د بهرنیانو ، ملګرو ملتونو ، سره صلیب او د بشری حقونو د دفاع د تولنو سره تفاهم وشی .
اوس د اشغال په وړاندی په جګړه ایزو شرایطو کی د بهرنیانو تر تحکم او بیرغ ، د سیاسی انګیزی په بنست باندی د زرګونو جنایت کارانو د دلی نه څو کسان چه ځان د آزادی پتنګان بولی ( د همدغه صفت په بنست باندی ، بهرنیان دوی سره په خبرو اترو لګیا ده ) ، نیول او اعدامول ، د افغانستان د دښمنانو د نګرانی ، وارخطایی او سیاسی ماتی نښه ګڼلی شو.
د کابل د جګړه مار حکومت له خوآ د اشغال په چاپیریال کی (قضایی ضمانتونو نشتوالی سره سره ) د جنګی اسیرانو د اعدام پریکړه صادرول پدغسی حالت کی چه بهرنیان تر ابده پوری په افغانستان کی نه پاتی کیږی ، د افغانانو پخپل منځی سوله ایز ژوند په پروسه باندی ناوړه اغیزه شیندلی شی . د غچ اخیستنی روحیه پیاوړی او تولنیز ثبات د خوب او خیال په بڼه مطرح کیږی .
« پای »

***یادداشت:***

*به نظر ما از آن جائی که هر دو طرف جنگ در افغانستان یعنی هم اشغالگران و ادارۀ دست نشاندۀ آنها و هم برخی از مزدوران پاکستان که اینک ادعای نمایندگی از مقاومت مسلح را دارند، هیچ یک نمایندگی از منافع آنی و دراز مدت افغانستان نمی کنند، و هریک از آنها جهت تحقق اهداف استعماری خود و باداران شان، خون خلق ما را می ریزند، بدون کدام تمایزی به مثابۀ جنایتکار جنگی به شمار رفته، اعمال آنها مصداق کامل جنایت علیه بشریت به شمار می رود.*

*ادارۀ پورتال AA-AA*